# هینداري او چیني

Download from:aghalibrary.com

شعري ټولګه

اجمل اند

WWW.SAMSOOR.COM

د کتاب چاپ ټوله حقوق د خپروونکي او د انلائن حق ئې یوا ځي د سمسور پاڼي سره محفوظ دي

# اې عشقه نامراد

اند خمارګېر کړم او خدايزده زما په سرو سترګوکې يې څه ولوستل چې د سند روزولنې يې راتر غاړې کړې.
ښايي پوهيده ، چې زه په دې شپو ورځوکې دخپل تېر عمر په تر ټولوډراماتيکو شيبو کې ووند کوم او ښايي پوهيده ، چې ميني خپلې وريښميني منګولې زما په مرۍ خښې کړې دي، ښايي پوهيده ، چې شپه او ورځ د يو چاد سترګو په کتاب کې دابدي افسانو کرښې لولم او بلاخره ښايي پوهېده چې ټوله نړۍ راته دمات کنډولي په شان تشه او پو چه ښکاري......... خو يوازې (شعر) داتروحي راتيټ او ترالهامه لوړ ترنګ مې په رګ رګ کې غزونې کوي او ډېر ځله يې ديو چاتورو سترګوته ديوازينۍ ډالۍ په شان وړاندې کوم، دمينې هره شيبه يو شعر راياوي ، ياخپل ياد خوشال ياد حميد يادرحمان ياد کاروان او يا هم داجمل اند.
په همدې ورځوشپو کې (شعر) خپلې ټولې نيمګړتياوې راڅخه پټوي او خپلې ټولې ښيګنې په سترګورانښاسي او کيداى شي له همدې امله مې دکره کتنې وريښمينه تله په لاس نه راځي او اجمل اند په همداسې شيبو کې خپله دربيمه شعري مجموعه (هينداري او چيني) زماتر مخې ايښې ده.
که اجمل ګټه وکړه ماهم تاوان نه دی کړی ځکه دشعرپه اړه ترټولو منطقي څېړنه دهغه عاطفي څېړنه ده او داسې څېړنه دمغزونه ، بلکې دزړه کاردی او زړه هم هغه زړه چې دمينې دپيريانو قصيده يې پخه کړې وي.
نوې اروا پوهنه دانسان دلاشعور (ناخوداګاه) په سمڅوکې په لټون ، لټون سترې شوه خو لږڅه يې په لاس ورغلل او دټولې شلمې پيړۍ په اوږدو کې يې ايله همدومره معلوم کړل چې دانسان تر ښکاره عقل ( شعور ) ورهاخوادغريزي اړيکو ، ارثي ليږدونو ، عواطفو ، پټوتمايلاتو اويو شمير احساساتو يوه پټه مجموعه داسې پرته ده لکه تر خاورولاندې دزروخزانه.
داخبره چې مطرح شوه نړيوال ادبيات او ادبي څېړونکې ورپورې ونښتل او دايې ورپسې پيوند کړه چې تر ټولو عاطفي انعکاس هماغه دی چې دناخوداګاه ساحې ته ورننږدې وي. همدلته و ، چې شعراو موسيقي په لومړي سرکې ودربدل او دنګه هنريت سينه يې وډبوله.
دهمدې نوې تيورۍ له مخې )اسماني ګويته )ته حق ورکړ شو چې هلن تر زرګونو کلونو وروسته بوځل بيا ووندۍ کړی او د (فاوست ) تر پالنګه يې راورسوي، اوپرايي ناظمانو ته حق ورکړل شو

چې ځمکې ته د ادم (ع) د راکوزېدو کيسه ځوړولو ته تمثيل کړي او (ميو ) چې سپينهاو فليا لاهم د سنيد په څپو کې سرګردانه لېده چايې د شعر په اوربدو تعجب ونه کړ بلکې دهغه له دې شعر څخه يې خوند واخيست چې:

پرتورو او ارامو څپو باندې چې د ستورو دوبدېدو ځايدی
سپينه او فلينادزبړه سو سن په شان تاويږي راتاويږي او ځي.

عشق هغه ځواک دی چې د انسان وېده ناخوداګاه راوينبوي دهغې تورې سمڅې دزلزلې په شان لړزوي او هلته پټ شوي عواطف او احساسات بهر ته راباسی، که همدا عواطف او احساسات په خوږه وبه او اهنګينو کلماتو تصويراوتمثيل شي شهکاره شاعري ده ، خو که پټ پاتې شول انسان يا ملنګ يا ليونی شي څکه تپول اتش فشان يې په ځان کې خښ کړی وي.

عشق دخدای (ج) دپيوندلو برهان دی او شعردهمدې برهان غږ شعر له زړه پاڅېږي او پر زړه کيني او زړه دعشق کوردی څکه خو عشق او شعرديو پ زرينې سکې دوه مخونه دي ، او که څوک يې نه مني داند دا عزل دې ولولي:

په مستو ټپو لمانځم د صنم غوندې جانان
اوس هم په زړه کې پالم د حرم غوندې جانان
د زړه پر پاڼه ورېم د مقدسې ښکلا توري
ما ښنلی په اوبو کې د زمزم غوندې جانان
ليمو کې مې خومار نرۍ نرۍ سرخي پيدا کړي
راياد شي مازيګر کې د چيلم غوندې جانان
خير هرڅو که بې وسه خوارو زاره زندګي ده
په وونده دې زما پريوځي د ستم غوندې جانان
خاونده ! وريځې چيرې دي؟لمر يمه اخيستې
د زړه له ګل مې تښتوي شبنم غوندې جانان

ترپايه
د اجمل اند غزلې صميمي دي څکه دهغه له ناخوداګاهي (لاشعوري )زبرمو څخه يې سرچېنه اخيستې او څرنګه چې موږورسره په قومي ناخواګاه کې شريک يو ورمو تردم ، منترلاندې راولي په تېره بيا که دعشق په شان درد مو وېده ناخوااګاه راوبښه کړي هم وي.

اند له تفنن او تکلف څخه لرې ګرځي او په غزل کې د ښکليو وښيو او تصويري ترکيبونو د کارولو
هڅه کوي، که د پخوا په شان مې داليکنه د کره کتنې په نيت کولای نو خامخا به مې ويلي وو چې
اجمل اند په خپلې دې مجموعې کې لړاو ډېر د درويش دراني د تغزلي وبې تراغيزلاندې راغلی دی.
وګورئ:

مونږ لټولي ډير سرونه يو سرې لپاره
لکه چې شګې چاڼوي څوک له غمي لپاره
پر دغه ځمکه که مونږ سره ګلونه هم وکرو
پکې ټوکيږ مونږ ته کاڼي د تندي لپاره
هغه تيره توره تر ملا کړه ويل ستوري ګټم
مونږ هم لاسونه پسې جګ کړه د برې لپاره
بد بينه خلک دي ، په ګل باندې يې چيرې مني
د ګل وجود نه مني بس د يو اغزي لپاره

ترپايه

خو زه داسې نه کوم او يوازې د مينې له مخې دومره ورته وايم چې خپله پخوانۍ ساده او صميمي لاره
هېره نه کړي.
او داهغه خوند او رنګ دی چې ده د ( تنده ) په نامه په ښکلي چارپاره يي شعرکې خوندي کړی دی.
د اجمل اند دربيمه مجموعه د ازيری له ځانه سره لري چې د چارپاره فورم په شاعرانو کې يو بل بريالی
زلمی هم ورزيات شو او په دې ډګر کې په دومره خوند او چستۍ راوڅرخېده چې د ډېرو له وبې يې
ترک پورته کړ:

باد شينکۍ پاڼې له شنو څېرېو وړي
سږ د واورو او ګورګورو مزه نه شته
اوس يې ناڅي په غاړه چينارونه
د شينکي رود د سندرو مزه نه شته
تريخ خومار لکه سکوت پر کلي خپور دی
سږ په کلي کې د بنګو قيمتي ده
غنم وسول ډيرو ګډه ځني وکړه
چم کې خود د غنم رنګو قيمتي ده

ترپايه

چارپاره فورم د موسیقۍ او ترنم له پلوه د غزل خوند لري او د بیان او کلام د بشپړې ارایې له نظره دازاد شعر په څېر پراخه لمن ، ځکه خو د شعري کیفیت له اړخه عجیب په زړه پورې فورم دی ، که د شاعر د نظر شاعرانه منځ پانګې او پړدول غوښتل او په یوه بیت کې نه رالنډیده نو کولای شي په څو چاپارو کې یې راولي او که وینا لنډه ګڼه نه راتله نو کیدای شي په یوه چارپاره کې څو موضوعې تړتپې ځای کړل شي ، له همدې امله د قافیه والو شعرونو پلویان چې په ازاد شعر کې یې لاس سم نه چلیږي که غواړي نیمه تمثیلي شعرونه ولیکي کولای شي له دې فورم څه کار واخلي.

اجمل اند په خپلې دغې مجموعې کې څو بریالۍ بیلګې او ترازادو شعرونو یې په مراتبو ښکلې نمونې دي.

لکه څرنګه چې ما مخکې هم ویلي و اجمل د خپل وونډ د چاپیریال او دود یال محیط پیاوړې ترجمان دی ، "هینداري او چیني یو ځل بیا زموږ لاس نیسي او خومار خومار مو د سپین غره ترلمنو ورولي ګوندې هلته د کوم زاړه زیارت د ملنګ له قلنګه یو څه بنګ ترلاسه شي یا خو د کومې سندرمارې غرنۍ پېغلې ټپې مو د خپلې مینې ترخوبولو سترګو ښېرته راولي نو چې داسې ده.

یاهو

غفور لېوال

کابل ، خیرخانه مینه

د ۲۰۰۳ عیسوي کال لومړۍ شپه

# غزل

دا زړه هغې نارې کړې چې له چانه پاتې شوی
ما ژر ټتر ته لاس کړ ما ویل مانه پاتې شوی

راځه ! چې د یو عشق په نوم له سره لمونځ شروع کړو له
له مانه هم دا ډیر عمر جانانه پاتې شوی

ښایست د دنګو نجونو د چیلم په لوګي پلوري
د کلي په خانانو کې ناځوانه پاتې شوی

سرخي مې په لیمو کې څه د بنګو خومار نه دی
بل اور دی چې له اوښکو له کاروانه پاتې شوی

په شونډو کې ټپې لاس کې ټوپک سترګو کې اوښکې
عادت دی راته دا سي د بابا نه پاتې شوی

ها یاد مې دي یو وخت راته دا زړه یو چا داغلو
دا ټپ مې په سینه له ډیر پخوانه پاتې شوی

های ودریږه !لږ تم شه کنه خون به پر ځان واخلې
وروستی ګل مې په ګوټو کې توپانه پاتې شوی

۲۰۰۲-۱۰-۱
پیښور، شاهین ټاون

# غزل

که لاس مې پورته کړ نو خامخا جانان به غواړم
څه بې ایمانه دومره نه یم چې ایمان به غواړم

ورځ به راځي له زوروړو به خق غواړي خلک
زه به داستا مخ کې ولاړیمه، ګریوان به غواړم

که مې یوه دوعا قبلېږي نو په لمر کې باران
سره زرغونه لکه لینده پاس په اسمان به غواړم

دومره اسانه دومره ژر نو ځنې څنګه تېر شم
جانانه !زه دخپل ټوټې زړګي تاوان به غواړم

منم لاسونه مې ګرو کړي سوادګرو د چم
خوکه مې خوله په واک کې وه افغانستان به غواړم

۱۲-۱۰-۲۰۰۲
پېښور

# غزل

لکه چې شګې چاڼوي څوک د غمي لپاره
موږ لټولي دي هر سرونه يو سري لپاره

پر دغه ځمکه که موږ سره ګلونه هم وکرو
پکې ټوکيږي موږ ته کاڼي د تندي لپاره

هغه تېره توره تر ملا کړه وويل يې ستوري ګټم
موږ هم لاسونه پسې جګ کړه د بري لپاره

بدبينه خلک دي، په ګل باندې يې چېرې مني
د ګل وجوړ نه مني بس د يو ازغي لپاره

غواړي خو ټوله بس چې غېږ ورنه راو ځرخوي
خوبيا يوه خندا شي بس د ليوني لپاره

د دوی ليمو کې هم د ژوند مينې څپې وهلې
هوسۍ خو ښکار نه وي يوازې د زمري لپاره

۲۷-۹-۲۰۰۲
پېښور

# غزل

خدای خو دې نه اخلي زموږ ځنې دا ځینې خلک
زموږ په منځ کې یو څو تنه دي د مینې خلک

څومره دې زړ توره را وکښله له تېکې ځینې
ناځوانه کلي کې لاشته د تورې سپینې خلک

که ګل پسې یې اقتدا د عشق په نوم وکړل
په دې کوڅو کې به بیا نه تویوي وینې خلک

ما او جانان یو بل به ستورونه کم نه ګڼل خو
که مو تر منځه اوسېدای نه د بد بینې خلک

د جبر تورې تا د کلي سترګور وخواړه
عجیبه دا چې سترګې نه لرې او وینې خلک

۲۰-۱۱-۲۰۰۰

پېښور

# غزل

ځانګي ځانګي مې په سترګي ژوند خوره شې
د کمره د سر ځېږۍ کږه وږه شې

په لېمو کې مې لمبې لوستلې نه شې
ته دا تورې سترګې وخورې چې ړنده شې

زه به نمر شم او نرۍ وریځې دې راشي
چې باران شي او ته زیړه زرغونه شې

د توپو د سوداګرو رنګین ښاره !
ته دې هم لکه دا کلی هډېره شي

زه به سیوري ته د اوښکو در روان شم
خدای دې وکړي چې د اوړي سره غرمه شې

زه چې تږی شپون له دنګ کمره راکوز شم
ته دې ټوله د سپین غر د غېږ چینه شې

زه چې تک زیړ د سینې له درده واړوم
لیونۍ ! ته له خندا نه تکه شنه شې

۲۵-۱۱-۲۰۰۰
پېښور

# غزل

هغه ټپې، ټپې څپې او انګازه يې نه شته
اوس هم راځي د کونړ سيند خو هېڅ مزه يې نه شته

هغه چې مور ورته په اوښکو کې ګلان کړلي
خپله خو څه چې د راتللو اوازه يې نه شته

خدا زده ټپي بيرغ په لاس ژني ترې چېرې پريوت
اس يې خولې خولې راورسيد کېزه يې نه شته

که له خپل وږه ليلى راواوښته نو نيغه ورځي
د مجنون کور خو بيابان دى دروازه يې نه شته

زغره لري، د بل چا ټپ په ولو نه راوړي خو
چې د دښمن سر په کې و ټومبي نېزه يې نه شته

يو ښکلې تنده ده چې ما خوار ته سندرې راوړي
انده ! که دانه وي، نو نوره انګېزه يې نه شته

۲۰۰۰-۱۱-۲۰
پېښور شاهين ټاون

# غزل

شیبه نیمه مې مخکې وه ولاړه ښاپېرۍ
زما خبر پوره نه وه چې لاړه ښاپېرۍ

هغه که د واورینو غروله څوکو شوه راکوزه
سلام به ورته وکړي د ښار واړه ښاپېرۍ

ښکلا یې د ښایست له وسعتونو نه وتلې
بس تړوله ده د سرو ګلونو ژباړه ښاپېرۍ

سرې سرې ځپې یې له تصویر مچکې اخلي
ولاړه د کونړ د سیند پر غاړه ښاپېرۍ

له اوو رنګونو جوړه لکه زېړه زرغونه
کړه لکه لینده ښکاره په شاړه ښاپېرۍ

هاتکې تورې سترګې درنه خپلو اوښکو یوړې
نو چا ویلي تاته وو چې ژاړه ښاپېرۍ

# غزل

په مستو ټپو لمانځم د صنم غونډې جانان
اوس هم په زړه کې پالم د حرم غونډې جانان

د زړه پر پاڼه وړم د مقدسې ښکلا توري
ما ځنبلی په اوبو کې د زمزم غونډې جانان

لیمو کې مې خومار نرۍ نرۍ سرخي پیدا کړي
راياد شي مازیګر کې د چیلم غونډې جانان

خیر هرڅو که بې وسه خوارو زاره زندګي ده
په ژوند دې زما پرېوځي د ستم غونډې جانان

خاونده ! وریځې چیرې دي؟ لمر یمه اخیستې
د زړه له ګل مې تښتوي شبنم غونډې جانان

چې کله مې هم سترګې ځراغونو ته کړم پورته
نو ټک په سینه راکړي د لړم غونډې جانان

چې اند کله ډیوې ته د زړه ټول زخمونه شمار کړي
راوخیژه په غره د سپیده دم غونډې جانان

۲۵-۱۲-۲۰۰۱

# غزل

هلته چې نيت دی يو ښايست ته جيلخانه جوړه کړي
څو ليوني وايي چې دادې ميخانه جوړه کړي

کله مې اوښکې پورې وخانده او وګوره بيا
لمر چې باران ته مخامخ شي زرغونه جوړه کړي

وخت به راځي څېرې به نوې څانګې وغځوي
بازان به بيا په سپينو غرو کې اشيانه جوړه کړي

بنګ يې وربړي له لبمو چې غرنۍ چينه کې
کوچۍ له لپې نه اوبو ته پيمانه جوړه کړي

جانانه ! زه او ته به عشق ته زندګي وبښو
څوک به زموږ له مينې ژوند ته ترانه جوړه کړي

۳-۱۲-۲۰۰۰

پېښور

# غزل

له کلي وځي بیا د لو به بلا نه خلک
خدایه ! په کومه خوا به ځي ستړي ستومانه خلک

ته مې په سیورې پسې هم توره له تبکی باسې
خو ستا د حال پوښتنه تل کوي له ما نه خلک

موږ ته خپل سیوري هم پر ځمکه باندې نه دی پاتې
موږ بې ستورو خلک موږه بې اسمانه خلک

زما جانان په کار دی، زه به ترې جانان غواړمه
ایمان به غواړي له ښتنه بې ایمان خلک

شپخه ! زه مې او میخانه یو سره چالیدي
د پرې خبرې جوړوي دلته له ځانه خلک

۱۲-۱-۲۰۰۱
پېښور ، ارباب روډ

# تنده

ډالۍ: د ننګرهار د شاعرانه دوهۍ یارانو ته !

باد شینکۍ پاڼې له شنو څېرېو وړي
سرې د واورو او ګورګورو مزه نه شته
اوس یې ناڅې پر غاړه چینارونه
د شینکي رود د سندرو مزه نه شته

تریخ خومار لکه سکوت پر کلي خپور دی
سرې په کلي کې د بنګو قیمتي ده
غنم وسول ډېرو ګډه ځینې وکړه
چم کې خود د غنم رنګو قیمتي ده

"خوګیاڼیو" او "تریلی" پورې اوس څوک ځي
د "ازمون" سینه کې هغسې زور نه شته
"صداقت" به د یارنو منځ کې وي خو
"بډیالۍ" کې د ویالو هغه شور نه شته

چا ته لوېې لارې نه څارې "رودواله"
شوې د کلي څنورې نجونې ترې
هغه شین ګودر له تورو کاڼو ډک دی
زوروې سترګورې نجونې ترې

سرې د جوارو خارې چا هم ماتې نه کړې
د قلبې شرنګی ګډ نه شو پر شود یارو
"ځواب ګله" بیا هم کله پخلا شې ؟
د رود غاړه او ګلونه د کوکنارو

سرې "پرتمه !" پرتمین کونړی وچ شو
مازیګر له " سرکانو" نه نه تیریږي
سپینې شږې یې سراب سترګې تیرباسې
په ځپو له شنو درو نه نه تیریږي

کوچی. څاڅکي دباران پسې ړنده شوه
د سین غاړه کې اوښان له تندې مړه دي
نور" پرهره !" د هیلیو کیسه پریږده
د اوبو روږدې کبان له تندې مړه دي

غجیبه ده غر مو بې وارو " غنې " و
سرې کال هم له " کدیخیلو" نه مر مر تلل
چا څه نه ویل عجیبه خاموشې وه
د هیندارو کاروانونه په خیبر تلل

چیرې څاڅکی پرخه هم نه راوریږي
نه تږکیږي" په ځیله کې ګلابونه"
"د رود تال کې " به څوک څه سندرې واوري
" دلته پرې دي لکه ځانګې زخمي زړونه"

د سندرو ښاپيرۍ به څنګه تم شي ؟
د "فرياد " د ټپو چم کې وچکالي ده
ستا مهين غزل به څنګه واوري" خوښه !"
کليوالو کې سږ ډېره غريبي ده

" څاره" ياره ! څه چې دواړه دعا وکړو
مونږه واړه په خداى ترې يوو باران ته
په سندرو کې به سپينې وريځې غواړو
څه چې لاس په ګډه پورته کړو سبحان ته

يادونه: دا شعر په ۲۰۰۰ م کال کې د اوړي پر مهال د هيواد سختې وچکالۍ ته ويل شوى دى.

# غزل

سپینې جامې، سپینې پګړۍ، له ښېرمې سپینې تورې
زموږ د کلي هر سړی ساتي زرینې تورې

دي خو بیشکه ددې ښار د پرښتو قاتلان
خو چې دې خلکو چېرې پټې کړې رنګینې تورې؟

خدایه ! چې ولې مو دا خو کاله ترخنګ تړلي
زیاتې درنې شوې راته تیکو کې سنګینې تورې

دوی ته دا عار ښکاري چې کینې مخامخ یو بل ته
دوی ته اوس سخته ده چې ووینځي له وینې تورې

موږه یې جنګ ته ور وتلي وخوراغی اخر
زموږ سرونو باندې سیوری د بې دینې تورې

بس یو څلور صفه بانه مو فاصله وه ترمنځ
زما او هغه منځګړې وې حسینې تورې

# غزل

چې ولې په دې ښارکې د رود شرنګ راته را یاد شي
چې تل لمر په لویدو شي لکه بنګ راته را یاد شي

یو شین دود د چیلم د رباب ترنګ راته را یاد شي
چې کله ها زیارت هغه ملنګ راته را یاد شي

له هسکه چې شي تورې وربځې غره باندې راکوزې
ماښوم شمه د سرو روسانو جنګ راته را یاد شي

بلا عمر مې تېر شو خو چې اوس مې ساړه واخلي
منې چې د مور غېږه د پلار څنګ راته را یاد شي

چې باد کله خوږه وږمه د غرو له غاړو راوړي
شپنې ! ستا د تنہر لاچي لونګ راته را یاد شي

کوڅه کې د خالي کارتوسو کړنګ مې چې تر غوږ شي
کوچان راته را یاد شي د اوښ زنګ راته را یاد شي

۲۵-۳-۲۰۰۱

پېښور پشتخره

# يوې سندر غاړې ته!

چې به چيرې يې د شين کلي شاعرې
اوس نه ته ښکارې، نه اورم دې سندرې
څومره ژر دې د کر کڼو وطن هير کړ
څوکره لرې ځينې لاړې زورورې

دومره لرې چې نارې نه درسيږي
اوس به غږ د ډزو نه اورې بختورې
اوس به نه ګورې څو سوي چينارونه
ړنګې دنګې کلاګانې برجورې

اوس پوهيږې ! راغه ټول په دوره پټ دی
له سپين غره راښوييدل دي ډبرې
مازيګر د کلي ټکنده غرمه ده
ځينې ورکې ستا په رنګه ستر ګورې

چيرې لاړې يا قربان دې چيرې وړی
دلته ډير دې له ټپو ځنې منکر دي ؟
زوروري ! ها سندرې بيرته راوړه
څو کسان دې له نغمو ځينې منکر دي

د کوترو په غومبر باندې مینې!
مسافرې! ښاپیرۍ دې رانه غواړي
رود دې اوس ها نیم ژواندې ټپې وايي
ترږې ترږې جینکۍ دې رانه غواړي

های! چې ژوند دې و نغمو پورې تړلی
د شین کلی بلبلانو ته په یاد یې
نوم دې تل په ترنم ترنم وايي
ولا ټولو ماشوانو ته په یاد یې

ها دې یاد دي چې کوڅې قبرونه نه وو؟
هدیه چې وه د شین کلي نه لرې
کوکنارګل کې به ټول کلی د رنګ جام شو
ګرځیدې به پرې کرږې وږې کوترې

ها چې سپین غرونه به وارو باندې پټ شول
کونړ سیند به په څپو کړلې خبرې
جانغوزې به په ویالو کې راروان وو
یات به راغلې پکې تکې سرې ګورګورې

اوس نو ټولو غرو له څیرمې اوراخیستی
څانګې وچې د څیرې او ګورګورو
ستا ټپې هم دي اوس ټولې ګناهګارې
یاقربان ستونې کې وچ د شمله ورو

رود پاخه جانغوزي نه راوړي له غره نه
په اوبو کې راځي څانګې د نښترو
په راغه کې د شپانه شپېلۍ ده ماته
ها خوارېږه غږونه نه شته د تنزرو

په زيارت کې ببر سرې ملنګ مړ دی
چې چيلم به يې تل دم ته برابر وو
غنم چيرې دې ؟ مرز به چيرې کيني ؟
هر څه وړي دي له پښو سره لښکرو

نو ته چيرې يې ای مستې سندر مارې
د شينکي کلي وتلې ټيه مارې
راشه ! شرنګ د شنو بنګړو پسې دې مړه يو
راشه !کانړې مو هم ځارې درته لارې

راشه راشه ! چې سور بيرته ترانې کړو
راشه راشه ! راستنې چې زمانې کړو
راشه راشه ! چې سکوت د خومار مات کړو
راشه بيا به غبرګې پورته پيمانې کړو

۲۷-۳-۲۰۰۱
پېښور

# ژړا

## ډالۍ

مورته مې چې د عظمت او استقامت غونډۍ وه

خدايه ! چې زه څومره بدمرغه يم
ډزې، جګړه، ژړا او زه سره په يو ورځ پيدا
مامې ترپايه د خوږې مورکۍ په سرو سترګو کې
چېرې څپه د خوښۍ ونه ليده
ان چې زلمې شوم او هغه خوارکۍ هم مړه شوه
خومايې شونډو کې يو ځل د خندا ونه څاره
مور مې ټول عمر ژړل
مورمې نرۍ د خپلو اوښکو له هينداروليده
مورمې ټول عمر له ژړا سره وه مينه کړې
اوس چې له ځان سره يوازې شم له ځان پوښتم
چې ايا ټولې ميندې
هاچې زموږ د دې سپېرې خاورې په سر اوسېږې
له اوښکو جوړې دي ژړا پورې يې ژوند تړلی؟
کنه يوازې زما مور خوارکۍ
په اوښکو اوښکو او په ډېرې ژړا ځان وواژه ! !

۲۰۰۱-۴-۸
پېښور

# انځور

دبودا ستري مجسمې ته

دژوند کتاب نه مې لرغونې افسانې ورانوي
څوک يې له پاڼو نه څو سوې ترانې ورانوي

بيا نو د بنګو د کنډول ليونې چېرې لاړ شي؟
دوی که همدغسې له څېرمې ميخانې ورانوي

ملا په تېره زمانه د کفر ګوته اېښې
په زور د يوال يو زوړ انځور د پيمانې ورانوي

ذوق د ماشوم جانان يې خدايه ښکلا چېرې منې ؟
دزړه له درې مې تصوير د زمانې ورانوي

جانان ! ستا خيالي انځورنو ځنې چېرې پټ کړم
دابت شکن حالات د زړونو بتخانې ورانوي

کوم يو شاعر يو وخت ښکلا پسې د ېخوا راغلی
کلونه پس يې څوک د پلونو نښانې ورانوي

يو وخت به وي چې رود به وچ شي غر به شور نه لري
دوی که شينکۍ څيرۍ وهي او اشيانې ورانوي

# غزل

دچا د رڼو اوښکو شاهداني وي ډيوې
دې کور کې چې سهار پورې روښانې وي ډيوې

راڼه د اسمان ستورې مې د لارې لاروي وي
له ما سره خو ټوله شپه رواني وي ډيوي

تر څو چې د تيارو د پاچا تور ببرغ رپېږي
دې ښار کې به تر هغې پورې ګراني وي ډيوې

چې سوزي د زلميو په تنګيو مزارونو
د تاندو ارمانونو ترجماني وي ډيوې

زما له رڼو اوښکو سره سمې دمې ژاړي
چې ولې دومره ډېرې مهرباني وي ډيوي

۲۰۰۱ ـ ۵ ـ ۱۲

پېښور

# چينه

چيرې درومې په کوم خوادې کډې بارکړې؟
دڅپې په ځيرروانې ړنګې بنګې
دارانه ستورې به ټول درپيې پريوزي
ته چې ځې زموږد کلي غنم رنګې

ته دلمر له سپينوو ړانګونه يې جوړه
ته دلوی ښښتن دښکلي تخليق رازيې
ای داندپه وچوشونډو کې چې اوسې
ته اوازيې دڅپې دنغمې سازيې

لکه اوښکه تکه سپينه يې رڼه يې
واه ! دسپين غره دخوږواوبو چينه يې
دزبورد داودي نغمې اوازيې
دايلبند دکوچۍ پيغله زمزمه يې

ای !چې سترګې دې دنورډکې پيالې دي
دسپوږمۍ په ځيرروانه ميخانه يې
ددې ټول کلي اسمان پر تاودان دی
ته له اوو رنګونو جوړه زرغونه يې

بل په څوک په دغه کلي کې پيدا شي ؟
چې به لويې هديرې را سره ژاړي
څوک به لپه بيا زما او ښکو ته نيسي
وايه څوک به جنازې را سره ژاړي ؟

څوک به تاوه کړي له سويو ځانګو غيږه ؟
څوک به ښايي ما شومانو ته سندرې ؟
دې شينکي رود ته به څوک خوبونه وايي؟
څوک به لپو کې را نيسي ترې ګورګورې؟

بيا به خدای خبر که رنګ کلی په ياد شي
بيا به غرونه غرونه پورې او سې لرې
د مست رود د شرنګا تال به درنه هيروي
بيا به نه درځي تېپې او نه سندرې

چيرې د رومې په کوم خوا دې کډې بار کړې
وايه چېرې به د اوښکو پيمانې وړې؟
اننګيو کې کيسې د اور او کلي
او ګوګل به دې داغ داغ له زمانې وړې

تم شه!
تم شه ! بيا ګوندې په غرونو واورې وشي
ګوره خدای به په دې شپو کې مهربان شي
بس کټ مټ لکه داستا سرشاره حسن
مست هلمند به په څپو څپو روان شي

په بزرګه څوکه سپینې وربځې ګرځي
ګوره بیابه په شېبو شېبو باران شي
ګوره به به چینارونه پاڼې وکړي
ګوره بیرته به شینکی ګودر روان شي

نوهای پرېږده چیرې درومې زوروري!
ددې سپینو غرود حسن اینه یې
دازمورږ د چم اسمان پرتاودان دی
ته له اورنګونو جوړه زرغونه یې

داکچکول درنو اوښکو به وړې چیرې؟
ای زما ددې کنډرکو څوملنګې
دارانه ستوري به ټول درپسې پریوزي
ته چې ځې له دغه کلي غنم رنګې

خوګیاڼې کوزبیار ۱۲-۵-۲۰۰۲

# غزل

څه ستر ګورې څڼورې مساپرې لاړې
خدايه ! زموږ د کلي نجونې څومره لرې لاړې

هسې نه بيا له ژړيو تش راولي ټول اسونه
دا پاچا وپوښتئ چې کوم خوا يې لښکرې لاړې

د ننګه شمشاده ! ورته ګورې، اولانه رالوېږي
ستا په کږو لارو د کلي ملغلرې لاړې

اوس يې ارزان پلورو خو هېڅوک نه شته نه يې اخلي
خاونده ! کومه خوا د زوړنو سودا ګرې لاړې

سږ به ملنګ باب په لپو غنم و نه شيندي
سږ د شينکۍ زيارت ګنبدې نه کوترې لاړې

هغوی چې تلې نوماز ېګر يې لوپټو کې يوړ
ورسره ژوند لاړو ، ټپې لاړې، سندرې لاړې

داند له زړه نه يو چا ځوانې هيلې داسې لوټ کړې
لکه د سپينو غرو له څوکو چې نښترې لاړې

۲۹-۹-۲۰۰۱
خوګيانی، کوزبيار

# غزل

چې د مست ملنګ د عشق کچکول يې مات که
خدای يې وواهه لښکر او ټول يې مات که

کوم بد رنګه يې غړ واوريده او لاړو
ملايان يې را خبر کړه ډول يې مات که

نيمه شپه ده شپون ويده دی ليوه راغی
واخ ! خاونده د ورکيو شپول يې مات که

مقدسې د سجدو هم څه ونه ويل
خو زما د ميو ډک کنډول يې مات که

ملامت نه دی اند بيا خو مار اخيستې
چې د پښې لاندې تنکی غاټول يې مات که

۲۰۰۱-۹-۲

خوست ښار

# غزل

ويروونکې اوس رڼا د دغه ښار ده
ماته هر ځراغ بلا د دغه ښار ده

يو ښايستو کې پل په دې کوڅو کې ورک دی
چې بدرنګه هره خوا ده دغه ښار ده

دلته نه ښکاري، څوک څه پېژني ستوري؟
عجيبه غوندې فضا د دغه ښار ده

چې له سترګو يې را نه ستوري وريږي
يو ملنګه بس ښکلا د دغه ښار ده

وايي ! زر سرونه مخکې ورته پرې کړئ
پېرۍ ناسته پر پاچا د دغه ښار ده

محلونه يې په وينو پورته شوي
له سرو جوړه کلا د دغه ښار ده

انده ! څه اورې ترې سپينو غرو ته لاړ شو
څه لمبه لمبه هوا د دغه ښار ده

۱۰ـ۱۰ـ۲۰۰۱

# بدرنګ

څومره بدرنګ دي داشين سترګي او سور مخې خلک
زما د کلی هغه دنګ ښايست همدو وواژه
اوس راپسې دي او زما په ړنګه بنګه غېږکې
زما د کلي د شهېدې ښکلا مړي وژني

# غزل

که ستړی ستړی خوبولی له شوګېره نه وم
نو پاڅېدلې به اشنا د لمر په څېره نه وم

ته چې ګلاب وې نو زه هم لکه شبنم ورېدم
ته چې هینداره وې نو زه هم بې تصوېره نه وم

دا چا ویل چې جوار ګرومه د شنو خالونه
جانانه ! دومره بې ایمان بې ضمیره نه وم

دیو نیمګړي عشق تپه ومه که لوستې دې وې
په زوړ دیوال باندې څه بې مانا لکېره نه وم

اند دیو ړنګ او غنم رنګ حسن مریدوم مرید
زما د عشق طریقه یاده وه بې پېره نه وم

۱۲ـ۹ـ۲۰۰۱
جلآباد

# غزل

که د سپوږمۍ په څېر ستو مانه له شوګېره نه وې
نو به په شنه سهار کې ښکلې د لمر څېره نه وې

دا ټپه مارې، څنورې به په چا پسې تلې
ته که د شین ګودر د ټولو نجونو مېره نه وې

خدایه که کلی مو روښانه ډیوونه وسوی
زموږ ګېلې به بیاله بخت اوله تقدیره نه وې

سږکالې موږ هم په سږو جواریو ژمې تېر کړ
سږکالې ښه وه چې په کلي کې فقېره نه وې

هغه رنې لکه د اوښکو چینې ټولې وچې
کنه دا نجونې بې هینداری بې تصوېره نه وې

دایې دا څو کاله د سپین غره او به نه دي څښلې
د اند غزلې پخوا دومره بې تاثیره نه وې

۲۲ـ۱۰ـ۲۰۰۱
پېښور

# غزل

څو د اتڼ څو د جرګو څو د کلنګ سړي وو
پاتې کسان زموږ په کلی کې د جنګ سړي وو

اوس هغوی چېرې شته ؟ په څلويې جنډې ولاړې
څو د نګې و نې تورې سترګې غنم رنګ سړي وو

د شنه چيلم له مستانه يارانو يو پاتې دی
ډېر ببر سری لېوني ددې ملنګ سړي وو

بېګايې ټوله شپه روښانه څراغونه وژل
بېګا روان د ښار کوڅو کې څوبد رنګ سړي وو

هاچې سندرې يې زندۍ کړې ، نو دوی کډې وکدې
چې د سيتار د نري ترنګ د ډول ډنګ سړي وو

سرونه يې پې شو ، خو دبل په وړاندې ښکېته نه شوه
انده !دې کلي کې يو څو تنه د ننګ سړي وو

۲۰۰۱-۱۰-۲۲
پېښور

# غزل

بیا مو ګرېوان ته شو اوږده د تورو سرو لاسونه
مونږه د امن په نوم ایښي په سره لاسونه

چې تور ځرمني او شين سترګې يې هوسۍ وولي
دومره خو لنډ نه و خاونده ددې غرو لاسونه

اوس ددې ښار په هر څراغ کې راته ته ښکارېږې
هرې ( رڼا ) ته ښوروم په اشارو لاسونه

خدايه ! مغروره ملکې په تندي غشي وخوړ
له سپينې غاړې يې تاوېږي د سپرو لاسونه

د چم د شين فصل د تاندې ځوانۍ خبر ترې غواړم
ددعا لپه ګرځوم په هدېرو لاسونه

۲۸-۱۰-۲۰۰۱

پېښور

# غزل

داسرې چې په دارزانګې په ژوند تنګ و
د دېوانوله پاچا سره يې جنګ و

په ليموکې يې ډېوې ، خوله کې ټپې وې
رابېل شوی د رڼو ستورو له څنګ و

دری يارانو باندې دازيارت ودان و
يو چيلم و ، يو رباب و ، بل ملنګ و

څو سندرې وې چې کلې پرې ژوندی و
داو ښ زنګ و ، د بېل کړنګ و ، درود شرنګ و

ته چې لاړې نو تر ډېره يورې ياره
د دې ښار په څراغونو کې ستا رنګ و

دريغه ! ستا ميخانې هم دې اوراخيستې
زمو ږ خوار ګودرخوبې له دې نه ړنګ و

په دې ډېرو زيارتو يې باور نه و
اند مريد تش درباب د نرې ترنګ و

۲۸-۱۰-۲۰۰۱

# غزل

واه ! د حسن له سپین غره ښېله شوې
سپینه واوره له کمره ښېله شوې

ستا تر دوو سترګو نېغه در رسېږي
یوه لار مې له تېره ښېله شوې

اوس یې هېر دی هغه مست غومبر یې نه زده
اوس له خپل سبله کوتره ښېله شوې

رود راوړي، پرې پراته د وینو څاڅکي
شینکۍ څانګه له ننښتره ښېله شوې

شپونکۍ شته دی خو نرۍ ګوتې یې نه شته
له شپېلۍ نه یې سندره ښېله شوې

انده اوس یې په خوبونو کې نه وینم
څوک مې داسې له ځیګره ښېله شوې

۱۹-۱۲-۲۰۰۱

پېښور

# هنداري او چيني

خدايه ! په کلی کې يوه هينداره نه ده پاتې
ډېره موده وشوه چې ټول خپلې څېرې نه وينو
زموږ د لوی زموږ د شين کلی بلا اينې
د توپ درنو غږونو ماتې کړلې
پاتې يې ټولې ملايانو د تصوير په ګناه
له يو څېر مې د فتوو
په دورو ووژلې
کلونه وشوه چې ټول کلي کې هينداره نه شته
خدايه ! رڼې چينې، رڼې ويالې دي هم وچې کړې
اوس به نو خدايه ! ددې لوی کلي شډلې پېغلې
کاږه واږه خوار واره پيکي په څه کې جوړ کړي
او داتڼ څو مامستانه ژڼې به
خپلې ببرې څڼې چېرې وينې

۲۰۰۱-۱۰-۲
پېښور

# غزل

مازیګرراشي خوګودراوشین کتارنه لرو
زیارت اباددی خوچیلم نه شته بنډارنه لرو
خلک مونه پریږدي له لاسه موډک جام اړوي
کنه نوخپله خوله هیڅاسره کارنه لرو
کله ناکله بس په شنوبنګوخومارماتوو
زیاتي نوڅه وکړواوزګاریو ، کاروبارنه لرو
دروموا وغشي دفولادوپه تنديو اخلو
مونږه یوه تېږه هم لاس کې دګوزارنه لرو
موږمینه هم کوواوډېرښکلي سینوکې ساتو
خوکه رښتیاووایم دې خلکوکې یارنه لرو
کلونه وشوه چې موږواړه په یوکلی کې یو
کلونه وشوه چې په یو بل اتبارنه لرو
اوس یاقربان سره غږنه باسواوپټ یې وایو
ګرانې داډېره موده کلي کې سیتارنه لرو
دمیکدې پلوهم کال کې یوځل نه ورګرځو
ملایان هم نه یو تسبیح نشته دستارنه لرو
زموږجانان داووسیندونو غرونوپورې اوسي
خودمودې ټول چم کې دلبر نه شته دلدارنه لرو
بس لکه للمې خپل غنم په بارانو لویوو
موږدچینو ، مونږه درود اوبو کې وارنه لرو
موږله جانانه سره خوله په خوله خبرې کوو
اړتیا یې نه وینو په دې منځ کې ریبارنه لرو
زموږیې هم دبنګړوشړنګ لکه ټپې خوښېږي
داند په څېریونورله نجونو سره تارنه لرو

# تبعید

اورې !؟
په شنه سهار د تبر د خرپا غږونه
اورې !؟
د پېغلو پېغلو څانګو د زګيروېو اواز
يا تادې لېدلي؟
د چم مخکې د مرغيو ځالې
لکه د ژبې اتڼچي له سر لويدلی لونګۍ
په سپين ميدان خورې ورې پرتې دي
غوږشه !
چې په لوګرو د لوګرو سردار چيغې وهي
دا ونې پرې کړئ !
ونې ماتې کړئ چې څانګې کوي
داونې پرې کړئ
کنه ټولې مرغۍ ببېرته راځي
لاددې سيمې د مرغيو د تبعيد کلونه نه دي پوره
اورې !؟
په شين سهار د تبر د خرپا غږونه
اورئ؟
د پېغلو پيغلو څانګو دزګيروېو اواز

۲۰۰۲-۲-۱۸
پېښور

# هېره

ای د ښکلا دغره د کلي جلۍ
دا تصور دې رانه واخله زياتي
غواړمه هېره دې کړم
داسې دې هېره کړم چې ټول عمر دې ياد پاتې شي
زه په شاعر زړګي نور دومره پېټې نه شم وړلای
ای د ښکلا دغره د کلي جلۍ !
نورمې د خيال هينداره ستا تصور نه ځايوي
څومره ستومانه څومره ستړې دی ژوند
(خيردی)ماپرېږده چې کلونه وروسته
دشنې ويالې پر غاړه سيوري لاندې خوب راغلی
غواړم خپل تېر خوبونو بيا ووينم
والله چې ډېر ستړی يم

۲۰۰۲ـ۲ـ۲۲
کوزبيار خوګيانی
دلوی اختر ورځې

# يو ټپې اشنا ته!

زما د ړنګ کلي ټپي زليمه !
له د سوې وني ړنګه ياره !
تر دې کړې ځوانۍ دې وګرځمه
زما نازکه غنم رنګه ياره !

چې ستا نرګس ځواني يې نه ليدله
دا زورر به ښايي زړه نه لري
چې ګلابونه هم په غشو ولي
دوی به نو سترګې او لېمه نه لري

څه عجيبه کلي کې ژوند تېروو
پکې د قاف دغرو ديوان او سېږي
ګرانه جانانه ! مينه څه پېژني؟
چېرې چې دومره قاتلان او سېږي

مونږه او جنګ سره په يو ورځ پيدا
څومره بدبخته زند ګي تېروو
غرونه مو هم څه خونړي غرونه شو
دلمبو سيوري ته ځواني تېروو

ګرانه ! له اوښکو پرته هېڅ نه لرم
پړ یم چې تپ ته دې پټې نه شومه
چې دا ستا درد په کې راټول کړمه ټول
د چا ملنګ مسته ځولۍ نه شومه

ګرانه راځه چې دواړه لاس پورته کړو
ګیله د لوی څښتن تر دره یوسو
دواړه ګرېوان شکو و ښېرې به کوو
سوز به له سوي مازیګره یوسو

خدایه لاسونه یې په بند کې مات کړې
چې چینارونه په ګولیو ولي
سترګې یې ووځه چې هېڅ نه ویني
هغه چې غشي په هوسیو ولي

کوزبیار خوګیانی

# غزل

په سترګو سترګو کې صنم به سره ساتو
راځه چې په کې واړوو حرم به سره ساتو

چې چنې به ترې شړو د ټپو په اوازونو
د کلي کروندې، پاخه غنم به سره ساتو

بنډار او مازیګر خو به جانانه سره پالو
زیارت به سره ساتو او چیلم به سره ساتو

اخر به درنې چینې پر غاړه دمه وکړو
په پل پسې به پل اخلو قدم به سره ساتو

اشنا د زړونو زور که مو د وخت جبر او به کړ
د بره، منګی، ستیار د چرسو دم به سره ساتو

۲۷-۲-۲۰۰۲

خوګیاڼي کوزبیار

# غزل

دعايې کړم، ثنا يې کړم، د خداى درته يې لېږم
راټول چې کړم له سترګو نه باران په دواړو لپو

خومار مې چې راوخلي مازيګر چينې ته راشم
دبنګو په نوم وښنمه جانان په دواړو لپو

حيران شوم ستا تصوير مې لا په سترګو کې ژوندى و
تصوير مې خپل اوبو کې کړلو وران په دواړو لپو

جانان لکه کوکنار تر زهرو تريخ تر ګلاب ښکلى
ما ښبنلې درنهو اوبو په شان په دواړو لپو

ګرېوان مې چې پرې لوند شي نو شي سترې تنده ماته
خوښيږي مې اوبه لکه دهقان په دواړو لپو

# غزل

لاس کې مې اینبې دی ښکاره دی زړه مې
لکه نښتر اره اره دی زړه مې

په کې ښه ډېر خلې او ډېرې جنډې
منې ! اوس لو یه هدیره دی زړه مې

کوچۍ په پام یې وړه چې ونه غورځې
په رب سپارلی تا سره دی زړه مې

یو ځل یې ولوله ایمان به راوړې
یوه سپیځلې سپیاره دی زړه مې

لکه توتې په کې یو ښکلې اوسې
انده ! زرینه پنجره دی زړه مې

۲۵-۱۱-۲۰۰۱

پېښور بورډ

# غزل

داسې خالي خو د ښایست له زورور نه و
د چینارو کلی خو بې له سترګو رونه و

چې دا کوچۍ څنګه سپېرې شونډې را ګوزه شوله؟
سپین غر خو داسې بې مماښو بې ګور ګورونه و

ها څانګې، څانګې، لختې، لختې نجونې نه شته کنه
دا مازیکر خو بې ټپو او بې سندرو نه و

هغه ترې توره د دښمن په ټټر ونیوله
خو خوند یې خوا کې د خورو ورو ملګرونه و

انده ! راغه سرِکال غاټول ګلان ونه ټوکول
درود پر غاړه شور د زرکو د تنزرونه و

# غزل

لښکر ترشا په ورانو لارو بې پروا روان دی
لړخوېږ وپوښتی، په کوم لورې پاچاروان دی

هسې نه بیا له ژړېو تش راولي ټول اسونه
د کلی خان توره ایستلی وارخطاروان دی

ټپې په شونډو ګلیټی ټوپک یې ولي کې پروت
دغرونو ژړی دي او جنګ ته په خندا روان دی

دې ښکلي هم د شنې چینې رڼې او به څښلې دي
چې لکه رود څپې څپې او په شرنګاروان دی

خدایه ! په ټول غره کې څوک نشته چې ترې تبرواخلي
د دنګوونو قاتل ، غره ته په رڼاروان دی

خدازده چې سترې اند به کوم کمرته کیږدي دمه
کلونه وشول چې دژوند پنډ یې په شاروان دی

۲۰۰۱ـ۱۲ـ۱

# چیلم

هخیال او د کندهار د شاعرانه بنډاریانو ته

وایه بیا یې شنو تاکونو اوراخیستی
شایسته کندهار بیا په لمبو ناخي
وایي بیا یې څوک داور په غشو ولي
هره څانګه چې سر پورته کړي راپاخي

وایي بیا ارغندراوړي دوینو لیکې
په څپو کې یې زلمي زلمي سرونه
لکه سپین زري کبان پکې روان وي
له بنګړیو ډک پړی شوي مړوندونه

چاویل ښارکې دمرګ پرښتې ګرځي
او په شونډو دملالو تپې وژني
وایي بیا لکه ګرګین یو څوک راغلی
دنیکه دکلي شنې ترانې وژني

وایي بیا لښکر راغلی د شین سترګو
خوایوب په پېښور کې ګورخوړلی
یوملاله تپه ماره چېرې نه شته
ژبې سوي هرې پېغلې اورخوړلی

وايې بيايې پراسمان لوګي خپاره دي
تندرونو بيارنې چينې وژلي
يو پيکی هم په تنديو پاتې نه دی
داور غشو ددامان شپنۍ وژلي

چاويل هلته سندرواوراخيستی
نو هڅياله ! دبنډارملنګان چېرې؟
په کټ کټ چې دشينکي چليم مين وو
سندماره ټپه ماره ياران چېرې؟

که دښارکوڅې دسواراوركوربنې وي
واخ ! نو هاغه دبنډارچيلم به مات وي
زړه مې لوېږي خدای دې نه کړي خدای دې نه کړي
کنه بيا خوبه دشنوسندروقات وي

پيښور ۱-۱۲-۲۰۰۱

# کوچۍ!

دې په خيالي وربل دې دوړې پرتې
خولې خولې له غره راکوزه شولې
بيګا په غره داورړلی ورېده
ښه شوه چې ته له غره راکوزه شولې

کوچۍ! پوهېږې؟ چې مې څومره په زړه
د خيله مست اوښ دزنګ کړنګ وريده
لکه دپرخې مې د خيال پر للمه
ستا د ټټر د پاولو شرنګ ورېده

خو ته اې مستې سندر مارې کړچۍ
خولې خولې سترې ستومانه راغلې
لادې په څنو کې تاوېږې لوګي
سترګې دې ډکې له ژړا نه راغلې

ليونۍ کومه ده؟ رمه دې چېرې
غوږ ته د ښکلې کنګرې شرنګ نه راځي
بيګا خو بيا په غره لمبې ورېدې
تا خو ويل چې غره ته جنګ نه راځي

شونډې دې وچې او سپیرې راوړې
ولې؟ په سپین غره کې ګورګوری نه وې
ها چې قامت کې لکه ته دنګې وې
هغه څېړې، هغه نښترې نه وې

پیکی دې جړو پړ راخپور پر تندې
لکه چې بیا لمبو چېنې وژلې
ها چې به تا پکې وربل جوړاوه
چا هغه ټولې اینې وژلې

څه ناروا دې څه بې رحمه راځې
د کېږدۍ سیوری دې بادونو وړې
ها چې به تاو په تندې ټومبلی
هغه سور ګل وحشي لاسونو وړې

لکه چې دود کې سپوږمۍ نه ښکارېده
د تندې روڼ ټیک دې تیارو خوړلی
او د ټټر ها لونګین ځونډی دې
د پیرانګي د اور لمبو خوړلی

کوچۍ پخیر راغلی تر او ښکو دې جار
راځه تر څو به یې ولاړه کینه!
موږه ته هم داکلی پاتې نه دی
یو شیبه درود پر غاوه کینه

داستا مین شاعر نور هېڅ نه لري
یو له زخمونو ډک زړګی ورسره
او دیو څو ټپي ټپي سندرو
یو مات سیتار اویو منګی ورسره

راځه زما د زړه ورشو کې اوسه
ژی ډکوه مې له زخمونو څنې
غېږ کې راټولې کړه د ویر سندری
زما دزړه له پر هرونو څنې

کوچۍ راځه دواړه په ګډه ژاړو
زما او ستا په ځمکه سیوري ورک دي
دازمو خپل غرونه زموږ نه دي
اوس په اسمان هم زموږ ستوري ورک دي

۲۰۰۱-۱۲-۲۹

دا شعر مې له سپین غره هغې راښکته شوی سانولې کوچۍ ته لیکلی و چې پر توري بوړې وروستیو بمباریو ترې
د کوچانی ژوند ټول شته اخیستي وو او له غره یوازې پخپله سانیوای زموږ کلی ته راکیوتې وه

# غزل

ټول چې حسن حسن دی او ټول رومان رومان دی
دی ورځو کې و دګرانې بيخي دا ستا په شان دی

راشه کنه اوس خو ويالې بيا ډکې روانې دي
ډېره موده وروسته په تالا کلي باران دی

خدای به زرکې راولي، او بيا چينې تاندې شي
لاخو په غره واورې اوري، لا خو غرودان دی

يار مې دی، غربت راسره ښه کلکه پاللې ده
ټول عمر د سيورې غوندې ما سره روان دی

څو ساړه نغرې پکې او څود خاورو څلې دي
اوس مې دزړه کلی لکه وران افغانستان دی

داد تصور پاچا دی، لويه پاچا يې لرې
چا ويل چې اند د خپلو اوښکو بنديوان دي

۱۲-۳-۲۰۰۲
پېښور

# غزل

نه په کې چیلم پاتې دی نه په کې جانان دی
کلی په یو مړاوي مازیګر باندې ودان دی

اوس هغه روښانه څراغونه په کې نه شته خو
بیا هم زما کلی دی په ما باندې خوګران دی

ځار یې له خوماره، په کنډول بنګو یې مات کړمه
ګرانې ! کنه سترې ژوند خو ټول ارما ، ارما دی

وایې چې به ځمکې باندې روغه ورځ ونه وینې
چاپسې چې دې ملنګ خیرلې خپل ګرېوان دی

ستاسو د روښانه ښار په تورو کیسو پوه نه دی
دامین سړی خود شډلو غرو د هقان دی

نه یې وینې ستا خودې دا غتې سترګې ووځې
اند خو دې کلونه و شول سیوری ته روان دی

۱۲-۳-۲۰۰۲

# لالي

خدای بښلي اسحاق ننګیال ته دهماغه پر کرښه:

لا په کلي باندې سیوری د خنجر دی
نه ساقي شته نه جانان شته مازیګر دی

ددې ښار ښاپېرۍ اوس هم پټې ګرځي
لا یو څوک ددیو په شانتې زورور دی

لاکمر، کمراو بوټی بوټی وېره
لاتراوسه خودې غرونو کې خطر دی

د پاچاحلاددې تو ماسک غورځولی
اوس د ټولو سپاهیانو سرلښکر دی

لا د شپې په زړه کې ډېره جوکه پاتې
مرور لاله شینکې اسمانه لمر دی

په د ېروکې سیوری نه شته شملې نه شته
او چیلم هم لا تراوسه مساپر دی

غنم اوس هم په تنکي وږي کې سوزي
هرلختی او هر کاږ کې موسنګر دی

یو ښامارله غره نه اوس هم راکزېږي
لاتراوسه یې قلنګ په دې ګودردی

لا دمینې کروندې ته دې شپې پاتې
دماشوم ماشوم په سترګو کې مو شردې

اوس هم هره شپه له لرې مالومېږي
لګیدلی اور هماغسې په غر دی

پرتنګیو جینګیو مرګی پلوري
دګودر پر غاړه ناست تورجادوګردی

اوس هم هاغسې بې سره تنې باسي
لاژوندی دکلي هغه انځورګردی

شپه به هم یو وخت کوچۍ شي کوچ په وکا
خو مات شوی مو مړوند د سپین سحردی

لا دکلي نه دتیښتې لارې ورکې
چې ترې لرې لاړه هغه بختوردی

نه باران شته ، نه چانان شته دی ننګیاله
څومره تږی دپېړیو مو ساغردی

۱۸.۲.۲۰۰۲

# زړه

زما زړه که چېرې ستا سینه کې ځای شي
نو والله چې له خپل ځان به غبرګ تاو کړې
چېرې پټ به
یو خاموش ځنګل ته لاړ شې
دومره لرې چې
هېڅ غږ نه در رسېږي
درنې چینې ترڅنګ
داسې کینې
چې خپل ځان درته اوبو کې مخامخ شي
بیا به هر څه درنه داسې یو دم هېر شي
چې قیامت پورې به خپل تصویر ته ژاړې

۲۰۰۲-۲-۱۵
پېښور

# غزل

تک را تک به میکدې پلوته ډېر کړم
نورڅه د اسې چل په کار دی چې تاهیر کړم

زما ستاد تورو څڼو شک پری راشي
زه چې لاس کله له شپې نه را چاپېر کړم

ستا په څېر یو خوږ غزل چا راته کښلی
تلاوت یې هره شپه په زور اوزېر کړم

پرې چې داغ داغ یې انځور ستا د خندا وي
زه به زړه ددې شینکي اسمان په څېر کړم

بېرته ګرځم خو چې کومه باندې لاړ شم
تاله څومره ګړنګونو نه را تېر کړم

۸ـ۲ـ۲۰۰۲

پېښور

# رود ته

عمر دی ډېر څپې دی مستې مستې
روده ! روان روده ! ودان دې اوسې
لکه له غره را روانې نجونې
ټپې ټپې، رومان رومان دط اوسې

روده ! که نه یې نو به زمورږ کلي ته
پسرلنۍ ځواني له کومه راځي
دا خو نو ته یې چې په سترو اوږو
دي بهارونه تردې سیمې راځي

بیا به د کلي ښکلې ښکلې نجونې
خواږه خواږه خوبونه چاته وایي
چې ستا له شورسره ټپې ملې کوي
دوی خو سندرې ټولې تاته وایي

بیا به د اوړي سترو سترو شپو کې
ستا سندریز ترنم ځنګه واور
په کې ګوډ ګرې توتکۍ اوسیږي
موږ خو دې زر نغمې له شرنګه اورو

رود که نه يې نو ويالو کې به بيا
وايه څوک ځنګه ګنډېري رانيسي
نجونې به سپنې پايڅې پورته نه کړي
چې ستاراوړي جانغوري رانيسي

دا ببر سرى د زيارت ملنګ به
په ملاذان کوهي له څه ډکوي
ستا له رڼو اوبو چې نه شي تازه
چرسيان ياران خو چيلم نه ډکوي

شپنه به بيا کوم ځاى کې ژى ډکوي
اوس خو دې غېږ ته رنګه بنګه راځي
په دې رڼو رڼو ويالو کې به مو
دخيرې وچ ښاخونه ځنګه راځي

روده سلام ! روده ! لوګى دې شمه
مستو څپو کې دژ نغمې تړلي
سږ دې تر ډيره مولا مه وچوه
تاپورې ټول کلي اسرې تړلي

عمر دې ډېر څپې دې مستې مستې
روده روان، روده ! ودان اوسې
لکه دغره نجونې ګېډۍ پر سرو
ټپې ټپې رومان رومان دې اوسې

۲۴ـ۲ـ۲۰۰۲
کوزبيار ، خوګيانى

# غزل

هغه مغروره، لیونۍ هغه سرشار نه شته
خاونده ! کلي کې ملاله ټپه ماره نه شته

چې دا هوسۍ جلۍ به خپلې سترګې چپرې وینې
چینې دې وچې په دې ټول غره کې هېنداره نه شته

په کروندو کې سږ کال غېږې غېږې بنګ ولاړ دي
خو ها جلۍ هغه ځولۍ هغه خو ماره نه شته

ځلور یارانو په بزرګه څوکه ناسته کړې
دا چا ویلې چې دې سپینو غرو کې لاره نه شته

منم چې بیا به په دېرو زموږ را وګرځي خو
هغه نرۍ هغه اوږدې ګوتې سیتاره نه شته

پر هغه هم یو ښکلې نوم چا په داغونو کښلی
له یوزړګي نه سیوا هېڅ را سره یار نه شته

۲۲-۱-۲۰۰۲

# وربلونه

چا به ویلې چې مست رود به داسې وچ شي
چې له تندې نه به مړې ټولې هیلې شي
ټول اسونه به بې ژوبیو له جنګ راشي
د دې کلي جینکۍ به لیونۍ شي

چا به ویل چې هدیره به دومره راشي
چې د کلي کروندې به هم جنډې وي
په بامونو به مو سرې لمبې تاویږي
او بادونو به ترې وړې لوپټې وي

چا ویل چې سندرمار شپون به ګونګی شي
د شپیلۍ ګوتې به یې غټې پرې شي
جګې جګې لکه ونې جنکۍ به
ماتې ماتې شي په ملا به راکږې شي

چا منلې چې به داسې توپان راشي
چې له سیند نه به جاله او جالوان وړي
تور کوډګر به د سیند پورې غاړه ناست وي
د دې ټول کلي ښایست به په غیران وړي

چا منل چې د دې کلي خان به جګ شي
جینکۍ به د چیلم په لوګي پلوري
او د لوی جومات ملا به لیونی شي
ورانوي به د خوارانو د سر سیوري

چا منل چې کلیوال به د اسې ورک شي
چې نصیب به د چا ګور د چا لاهور شي
څوک به غرب کې څراغو ته دمې یوسي
څوک به سپین شي څوک به هم له رنګه تور شي

چا منل چې به سرونه بې شملو شي
له دې کلي نه پردي به ستر ګور شي
د ګودر نجونې به هم کړي لنډۍ هیرې
د اتڼ زلمي به واړه مساپر شي

څه د قاف د غرو ګوډ ګر بادونه راغلل
لرې لرې لوپټې یې رانه یوړې
دنګې ونې یې د ټول کلي چپه کړې
وربلونه او شملې یې رانه یوړې

۲-۲-۲۰۰۲

پیښور

# غزل

خدای خبر بیا دې په کومې بهانې وژلي
بیگا له ښېرمې دي چا ټولې میخانې وژلي

چې به ستومانه هوسۍ تنده اوس په څه ماتوي؟
دې ظالمانو خو رنې رنې چینې وژلي

سهار یې مېږۍ گڼې وڼې په فصلو گڼې وي
بیگاه لمبو د پورې غره غېږ کې شپنې وژلي

زما یې یو نوم زده د چم د ښاپیریو قاتل
که یې تاجکې اوزبکۍ که پښتنې وژلي

چې نه یې ته، او نه یې زه، نه یې هغه قاتل دی
بیا نو د کلي خیالي ژبې زمانې وژلي

اند چې یې تل ښنبي د یو چا په مقدسه نامه
وایې چې ډېر خلک دي، داسې پیماني وژلي

۱ـ۱ـ۲۰۰۲

# غزل

د څومره توپانونو قيامتونو شاهدان دي
خو دا د غرونو کلي دي تر اوسه لا ودان دي

زياتي دي ښاپيرۍ له دې کوڅو نه ګډې يو سي
ديوان د قاف له غرونو نه دې ښار ته راروان دي

په کلي کې زيارت او جومات ډير سره نږدې و
ملنګ او ملا دواړه مې د يو چيلم ياران دي

ځليږي او پتيږي له ليمو نه مې خوب اخلي
دا نن خو څو راڼه ستوري بيخي دا ستا په شان دي

يو شنه جنډه د سيند د څپو غيږه کې ورکيږي
دوه غبرګې متې غوځې د يو ژني جالوان دي

تپې وايي، ناري وهي او لو څې پښې ځغلي
په اند کې څو خويونه لا تر اوسه د دهقان دي

۲۱-۱-۲۰۰۲

# غزل

نه لکه سیند څپې څپې سترې ستومانه راغلې
نه لکه ستوری په هوا باندې جانان راغلې

مامې ځواني زیاتي درنو څپو ته وسپارله
د سیند دې غاړې ته ناوخته جالوانه راغلې

لږ پرې په پام اوره چې څړیکې یې راوینبې نه کړې
په دې ټپې غرونو کې بیا چېرې بارانه راغلې

تاخو ویل له ږنو ستورو به ځولۍ ډکوې
ته خو له نیمې لارې بیرته پښیمانه راغلې

خوله کې ټپې لاس کې ټوپک پټکې کې ګل نه لرې
څنګه یې ومنم چې ته له روهستانه راغلې

زه دې کلونه وشول کاڼې زړه ته لار لټوم
خو ته زما زړګې ته څومره په اسانه راغلې

۸.۱.۲۰۰۲

# د بنګو بوټي

هاچې له غره خولې خولې راکوز شو
او د رڼې چېنې پر شنه غاړه مودمه کېښوه
تا د ټيکرۍ پيڅکه هواره کړه په لمونځ کيناستې
بيا دې له شنو بنګړيو ډک لاسونه لپه کړل
او ژبې لاندې
دې سويو بوټو باران وغوښته
غره ته دې بيا راتګ د عادې وکړه
اوس په هماغه ځای د بنګو يو درې بوټي راشنه
لکه ستادرې خالونه
څانګې يې هسې لکه ستاد بنګړو ډک لاسونه
د دعا لپې دې قبلې ته خورې
او هر ماښام ستاها سپېڅلې مقدسه دعا
دغرني باد سره ګډه وايي
له تندې وچ غره ته باران غواړي
او ستا د بيا راتللو هيله کوي

۳۰-۱۲-۲۰۰۱

پېښور

# غزل

وس د مرګ او ژوند په تار باندې ولاړ دی
زیاتي ګل وطن په دار باندې ولاړ دی

دیو چا لاس کې د سپینې سولې توغ دی
د سرونو په مینار باندې ولاړ دی

له وړې لېچې یې لویه دعا لویږي
هاما شوم چې پر مزار باندې ولاړ دی

وایي ډېرې تورې سترګې به را باسي
د پردیو فوځ په ښار باندې ولاړ دی

هانرۍ ګوتې له تورې ماشې ځرخي
له مودو ګرد په سیتار باندې ولاړ دي

یو ځراغ کې یوه ورکه ښکلا ګوري
دې ماښام خو اند پر لار باندې ولاړ دی

# غزل

څه که غر ډک دی له کرکڼو په کې ببرې پاتې
د کلی چتې پېغلې نه شوې ورته ډېرې پاتې

راځه ته کینه زورورې درته ټولې وایم
څو خاطرې مې دي په زړه کې تېرې هېرې پاتې

په خړه شناخته يې د سرو شونډو يو مهر ښکاري
د پلونو نښې يې له قبر نه چاپېرې پاتې

بیا د سپین غره پر سپینو څوکو سری لمبې تاو بږي
بیا د کبلیو شونډې وازې دي له وېرې پاتې

بس د سپوږمۍ په تتو وړانګو کې لمونځونه کوو
اجمله ! کلی کې رڼا او ډېوې چېرې پاتې

۲۰۰۲-۱-۲
کوزبیار خوګیانی

# غزل

چې رب سندرې او درد دواړه راته یو ځای راکړل
ښایي پر ما به یې همدا د ویر روزګار پیرزو شي

بس ځو شیخان و چې دا لویه میخانه یې لوټ کړه
کنه په خدای که د ساقي پر موږ خومار پیرزو شي

جبر دی جبر د تاریخ د پړاوونو جبر
کنه تنکی زلمی د کوم ظالم په دار پیرزو شي

که مو ځو تنه تر منځ یو نه سي خبرې د شر
زموږ خو خدای که پر یو بل د ګل ګوزار پیرزو شي

مور مړی اند یې خدایه ! هغې باندې چېرې منې
له موره کم وي چې که هر ځومره د پلار پیرزو شي

١٢-٨-٢٠٠١

# غزل

دادې څومره د سرور جامې اغوستي
واه تا بیا د لمر د نور جامې اغوستي

ملایان دې دار پیدا کړي ما دې مړ کړي
ما هم هسې د منصور جامې اغوستي

ما سینه کچکول د مینې درته راوړ
تا دغج تا د قصور جا مې اغوستي

مقدسې چې دې زانې کړې، راکوزې
ستا ټپو خور زبور جامې اغوستي

دلاشرنګ د تورې نه دی اوربدلی
دی سرې تش د باتور جامې اغوستي

نو له چا به پر شین کلي رحم غواړم
دلته ټولو دي د چور جامې اغوستې

# بنګ

ای ! چې دا څومره ژر دې ومنلې
ددغو خلکو درواغجنې کېسې
ددوی په سترګو کې خو شر او سېږي
ددوی نو چېرې زده د مینې کېسې؟

ماته اوس هم لکه ایمان سپېڅلی
راته په شانې د سپین غربکلی یې
درود په څېر مې زړه پر تاودان دی
لکه د بنګو مازیګر ښکلی یې

ته خپه مه شې، چې خومار مې واخلي
ډکه پیاله کړم په سربنګ واړوم
د کلي ونې لکه ته ښکلې شي
زه د رنې چینې تر څنګ واړوم

ستاڅو غزلې مخکې وغوړوم
بس تر ماښام یې یادوم یادوم
ماښام تیاره شي رانه تورې ورک شي
نو ورته اوښکې بلوم، بلوم

له ستړي ژونده مې شپې باج اخلي خو
په تصور يې ستا روښان ساتمه
نوم دې اوس هم په ترنم اخلمه
په دې يو څو تورو ايمان ساتمه

پر بېړده لګيا دې وي خو مه يې منه
ددغو خلکو دروا غجنې کيسې
ددوی په سترګو کې خو شر او سېړې
ددوی نو چېرې زده د مينې کيسې

۲۰۰۲-۱۱-۱
کابل، سپين زر هوټل

# څانګه

ډالۍ
زماکليوال يار نوران شا خومار ته

په لېمو کې مو سورخي وړل تر داره
څه په نيمه کې دې پرېښود له لاره
ماڼزې پيالې کړې نوې تاتوبه کړه
مازيګر دې له ما ووا خيسته خوماره !

زه او ته خو ديو بل له زړونو جوړ و
زما ياد دي چې ته زه وم او زه ته وې
موږه دواړه يوه څانګه د يو ونې
فاصلې خو مو جانانه ! تر منځ نه وې

په لېمو کې مو له دوده بغاوت و
موږه دواړه پر يوه لاره روان و
نه مو دار نه مو د ستار د چا منلو
که باغيان و موږه دواړه نو باغيان و

زه او ته خو د شنو بنګو ګناهګارو
موږه دواړو په يو جام وې شونډې ايښې
زه او ته به چې تمامه ورځ خومارو
په ساغر به مو ماښام وې شونډې ايښې

موږ خو دواړه د يو درد ترجمانان و
موږه دواړه خو د يو پير مريدان و
مه کاپرو نو بيا دواړه کاپران و
کنه دواړه ښه سپېڅلې مومنان و

خو چې ګرانه ! بيا ته څنګه جنتي شوې
زه د ځمکې پر سر هسې دوزخي شوم
ته د نور پرښتو کومې خواته يوړې !
زه د تور پاچا ، د تور زندان بندي شوم

# ژمی

د پروين پژواک د يو شعر ژباړه

چې هر سهار له خوبه پورته شمه
نو د کوټې په يخ وهلې ښېښه
د ګرمو ګوتو پر سر
ستادنوم توري ليکم
بيا له هماغې نه پيرون و څارم
چې به ( شينکی ) پسرلی کله راځي؟

# ګلاب

د پروین پژواک د یو منثور شعر ژباړه

چې ها لومړی سورکی ګلاب مې درکړ
هادی په یاد پاتې دي؟
ماها ګلاب ته وه هر څه ویلي
او هغه هم و تاته ټول وویل
خوهی افسوس چې ته د ګل په ژبه نه پوهیږې ؟

# خوب

د پروین پژواک د یو منثور شعر ژباړه

کله چې مړ شو
نو تنکی زلمی و
او په دې نه پوهیده
چې دا مرګی څه شی وي؟
کله چې ټولو ژړل
هغه د خپلې مورکۍ لاس ونیوه
(او په کرار) یې و ویل !
لکه چې خوب مې راځي
بیامې لږ ژر بیدار کړه

# ربابي

د پروین پژواک د یو شعر ژباړه

ماته رباب وښایه
زه د سندرو اواز نه لرمه
چې درته ویې وایم
خویو لوی درد لرمه
چې په تارو به یې درته وغږوم

# غزل

چې له تنو نه بېلوي د ګل وریښمین لاسونه
خدای خو دې مات کړي په مړوند کې د ګلچین لاسونه

سرکالې بیا په شنو درو کې د ځوانیو لو دی
سرکالې بیا غبږه کې راوړي د کونړ سین لاسونه

نور مو په لپو کې تر عرشه دعا نه رسېږي
زموږ پرې زموږ نه شته د امین لاسونه

خوب کې یې وینم چې د کلي په ویالو کې راشي
له تکو شنو بنګړیو ډک وتکه سپین لاسونه

# اتڼ

چیرې بیا که په دې غرو کې دډول ډنګ شو
په والله چې هدیرې به په نڅا شي
دنګ دنګ ژړنې به له تورو خاورو پاڅي
او اتڼ کې به له ځبرمې په ګډا شي
کله بیا که په دې غرونو واورې وشوې
دشینکۍ څیرۍ ټپونه به پټۍ شي
درودغاړه به دسترو دمه ځای وي
دغره غېږه به نو بیا کېږدۍ کېږدۍ شي
په کمرکمربه شنه بوټي راشنه شي
اوروژلي چینارونه به ژوندي شي
سنګرونه به شي ځالې دمرغانو
په کورو به ددې ټول کلي سرې شي
چېرې بیا ها خوماره بېرته راغله
ددې وران کلی چینې به مېخانې شي
هلکانو به بیا لنډۍ په یاد شي
تورې سترګې به دنجونو پیمانې شي
خو باداره !ولا ډیره بدمرغي ده
ډول مومات ، خوماره نشته ، وچکالي ده
لاخو کلی دخنجرسیوري ته پروت دی
لاتراوسه دخونخوارو پاچایي ده

# غزل

ته خپه مه شې ، رانه خدايږودومره خوارهم نه يو
ستا درنې هينداري مخ باندې غبارهم نه يو

داچې دشونډولو يوه کنډول ځواني ځاروو
يو ليونتوب دى کنه ګرانې ډير خمارهم نه يو

ددنيا داسرا وهغه راته ورغوى ښکاري
لاخو دزړونو پاچايي لرو ناچارهم نه يو

موږديوې ژبې يوې مينې يو زړه خاوندان
دوه مخي هم نه يو ، دکلي يو ، دښارهم نه يو

اوس هم لويدلي جګوو ورپسې لاس غځوو
لاسترې هم نه يو ، دچاداوږو بارهم نه يو

له خپل سيتاره سره يو لمن خبرې لرو
ډېرپه کيسه کې دتبو او دستارهم نه يو

هسې بس کله ددوه سترګو رياضت شروع کړو
کنه بلا کارونه نور لرو او زګارهم نه يو

وږي هم نه يو دچازرو پسې نه ورګورو
شرمو هم خوښ نه دی دچادلارې خا هم نه يو

لا خو تراوسه مو دښارډ يو وته سترګې بريښي
مونږه له سپين غره راکيوتی ډ ېر په لارهم نه يو

کله نا کله دچا حسن ته ليمه کچکول کړو
کنه کيسه کې دسردار او دبادار هم نه يو

بس سره خاندو څانګې څانګې درد په زړونو کې وړو
داند ياران يو اړ په شپه او په سهار هم نه يو

۱۲.۱.۲۰۰۲
پېښور